# د غازي ګل بابا جومات جلسې

محمد اشرف غمګين

د هشنغر د وړومبي کلي چارسده خاص بازار نمر خاتۀ سرته يوه څلورګوټه ډېرۍ د پاسه جومات او خوا کښې د غازي ګل بابا مزار په سياسي او ادبي شه پارو کښې د ارزښت وړ مقام درلودلے دے. دا يو قدرتي سټېج ؤ چې لاندې ترې لوئے ويړ مېدان ؤ، بيا قبرستان نزدې د بابړې د کربلا شهيدانو د ۱۲ اګست مقام دے. دې جومات ته مونځ ورکولو دپاره به د نولس ميلونو لرې د دوابه ترخه نه پياده مشهور عالم دين مفسر قران خدايي خدمتګار مولانا امير محمد ترخوي تشريف راوړلو.

فضل رحيم ساقي صېب خپله چاپ ډائرۍ کښې ليکي، چې مونږه د رځړو فقير محمد کاکا د پړانګ کلي سيدګل بابا ما فضل الرحيم ساقي به د غازي ګل بابا جومات څخه خلق جمع کړه او فخر افغان باچاخان به مو راوستلو، جلسه به مو وکړه او له دې ځايه به مو نورو کلو بانډو ته د تللو پروګرامونه جوړول.

د ساقي صېب دغه پيرايې اظهار د ۱۹۳۰ نه هم وړومبنی او ابتدايي ښکارېږي، ځکه چې دغه زمانه د دوي مشن جاروګانې وهل او دخانانو حجرو کښې اپوټه کټونه سمول، په همسايه ګانو د شپې څوکۍ ختمول، ډمې ګډول بندول وغېره ؤ.

د عدم تشدد او د صبر تلقين سبق يې خلقو ته ورکولو، باچاخان بابا به فرمائيل زۀ سرکار سياست ته راکښلمه. بهر حال د ۱۹۴۷ء نه د غازي ګل بابا جومات چارسده په مقام د داسې تاريخي جلسو شروعات وشو، چې دريو لاکو ښځو نرو ګډون به پکښې يقيني ؤ، د دغه جلسو مثال د بابړې د شهيدانو د وړومبنې تلين نمانځل وو او طرحي مشاعره چې طرحه يې دا وه:

"سرۀ ګلونه وينم په دې شاړو بنجرونو کښې"

دا په خدايي خدمتګارو تش تور لاس او پښې ابلې جلوس فايرنګ د شپې طرحي مشاعره طرحه:

"بې د قران د ازادۍ نه مسلمان به نۀ شم". چې بيا په سبا ورځ د شهيدانو د بابړې چارسده کربلا رامنځ ته شوله.

د غازي ګل بابا جومات چارسده په مقام د عبدالاکبرخان اکبر دا مصرع طرحه:

"شهيد درله اباد کړلو وطن په وينو سرو".

په دې جلسو مشاعرو کښې د شاعرانو صاحبانو دنومونو ډېر لوئے فهرست دے، څۀ برخه کلامونه يې پښتني ارمان کتاب درې ټوکه کښې افغانستان چاپ کړي دي، تازه يوې جلسې ته د بلوچستان پښتونخوا د ظفر الاسلام مدير او شاخِ ګل مولف مير رحمان غازي صېب ت د غازي ګل بابا جومات جلسې ته تشريف راوړو او ډېر انقلابي ولوله انګېز راوړے پېغام نظم يې پېش کړو.

باچاخان بابا چې د جېل نه بهر ؤ، د غازي ګل

بابا جومات په جلسو کښې به يې ضرور د بصارت او بصيرت ډکې ويناګانې کولې، يوه جلسه او ډرامه چې د شپې د غازي ګل بابا جومات چارسده لاندې ميدان کښې ستېج شوه. ښاغلي رحمت شاه سائل صېب بې مثال نظم واورولو، چې فقير راقم الحروف يې د جبن هزار داستان چاپ مقاله کښې په تفصيل ذکر کړے دے، د دې تلميخ قبوليت حاصل کړے ځائے لږ ببرته چې بالاسطور ذکر شوي دي، هغه مقام چې نشانچي به په توپه لږېدلو او غورزېدلو اګاهو به يې نشان د پربوتو مخکښې بل خدايي خدمتګار نشانچي ته ورکولو. عېن د شهيدانو په هغه مقام جلسه ته د خېبرپښتونخوا وزير اعلے حضرت مولانا مفتي محمود صېب تشريف فرما ؤ او يې وئيل دا ديني مدرسې او جوماتونه چې دي دا د دوي شهيدانو برکت دے، عظمت ته يې سلام کوم. د يوې ايريا له رويه مو د غازي ګل بابا د جومات ځخه جلسو کښې ذکر لازم وګڼلو، د بلوچستان ګاندهي د پښتونخوا نېپ لاربښود ګران مشر عبدالصمد خان اچکزے صېب پښتني لباس زېب تن سوچه ثقافتي درشن لرونکے د غازي ګل بابا جومات جلسې ته د فخر افغان باچاخان باباسره ځنګ په ځنګ د ګډون دپاره داخل شو. هغه وئيلے شي اوس يې يادونه افسانې پاتې دي، طلب تفصيل کتاب داد.

کله چې په خپل وطن خپله خاوره صوبه بلوچستان ميرغوث بخش بزنجو، سردار عطاءالله مينګل، نواب سردار خېبخش مري صاحبان بند شو او صوبه بدر شو، بلاوه شوې وه، نبغ د غازي ګل بابا جومات په مقام چالو جلسې ته داخل شو، راقم نظم وئيلو، شعارونه، نعرې، ډولونه، ګډاګانې شروع شوې، دوي په اولس غږ وکړو، خاموش مونږه نظم اوربدل غواړو، د سايېکي انتها وه، د دې معتبرو هستيو چې خلق داسې چپ شو لکه چې څوک نۀ وي.

هغه وخت مشرقي پاکستان موجوده بنګله دېش د ډهاکه ښار لرې پروت کلي سنتوش باشنده مولانا عبدالحميد خان بهاشاني صېب د غازي ګل بابا جماعت بمقام جلسې ته تشريف راوړو. د راقم الحروف ډيوټي ورسره امير محمد خان صېب ولږوله، تاکيد يې وکړو چې له خوا به يې نۀ خوځېږې. مولانا بهاشاني سره ترخ ترخ ته کېږمه، چې عېن د جومات د صحن په مينځ کښې مې په خپله کوتاهۍ فکر برابر شو، چې ګوندي ما د مولانا صېب د پېزار خيال ونۀ ساتلو، ولې چې پښو ته يې مې نظر شو مولانا صېب شړپ شړپ کولو چپل يې په پښو وو، د مېزري ټوپۍ يې په سر وه نبغ د جومات محراب پله روان و، نو ساه صورت شوم، بيا د استاد عبدالغني خان لېوني فلسفي شاعر سره د عبدالولي خان رهبر تحريک کور ته موټر کښې لاړمه، سره د بهاشاني صېب عبدالولي خان لس دولس غږي وو، ځکه ډېره ښه تبآدله خيالات وشو او ډېره مکلفه چائے مو وڅښله.

د غازي ګل بابا د جومات د جلسو رونق عبدالولي خان و، په حالاتو تبصره، د پښتون قام کړمې او مسايل علاوه د عبدالولي خان د حالاتو سره برابر ترسکونې لطيفې توره دې لالا وهې نمرې دې ګوپالا وهي، چرګ چې سپي د لارې خواته ښخ کړے ؤ، مرداره چې څوک لکۍ، غوړونه، څرمن

خوري او څۀ په وينو ليت پيت پکښې ټول وردننه شوے وي وغېره. په جلسه کښې غصه شو، د پښتونستان په باب تقارير وو، عبدالولي خان په رښتيا ژوندے ولي و، زۀ راقم دروغ نه وايم ولي بينا وي هر څۀ ويني، هم هغه ؤ چې سازش کښس پرې جوړ شو.

ګل بخښنه! تاريخدان نه يم، غازي ګل بابا جومات چارسده په مقام د جلسې تابيا وشوه، باچاخان بابا جېل کښې و، ورپسې درې سوه دېرش جانثار خدايي خدمتګاران جېلونو ته تللي وو، مرکزي صدر ښاغلي محمود علي قصوري صېب ته بلنه ورکړې شوې وه. صدر محمود علي قصوري په جلسه کښې د ګډون انکار وکړو، قصوري صېب ووئيل زه په مزاراتو، جوماتونو کښې جلسې نۀ کومه، پښتانۀ اولس فطرتاً سيکولر د لويې سينې خلق او قام دي، ډېره ښه ده، د چارسدې بازار قبلې طرف د جينډي سيند په غاړه ډاګ کښې به جلسه وي، جلسه جوړه شوه، خو منسوب خو هم هغه د غازي ګل بابا جومات په مقام دجلسې وه، جناب مرکزي صدر محمود علي قصوري تشريف راوړلو، هغه فارسي متل کېږي بد را کرد بهانې بسيار، محمود علي قصوري صېب په سټېج ودرېدو او ويې وئيل دا چې درې سوه دېرش خلق جېلونو ته تللي دي، دا د پارټۍ له طرف تللي نۀ دي، څنګه چې بالا کرښو کښې سپر د قرطاس شو، مخکښې غازي ګل بابا جومات کښې جلسه نۀ منله، اوس د پارټۍ کارکنان سياسي قېديان نۀ مني، مونږه خو هم نۀ منم... نۀ منم مرګ انجام د هستۍ نۀ دے، جلسې کلهم خلقو او صوبايي کونسل غړو چغې کړې، مونږه تا نۀ منو او عبدالولي خان صېب صدر شو، پارټي دوه درې حکومتونه وکړه، چې دا د خپل او صحيح قيادت نخښه ده، تصوف ته نۀ درومه، خو د غازي ګل بابا جومات جلسې تاريخي او په امر دي،ميرا ووئيل:

کرامت د اولياء دے خلقه حق

چې څوک شک کړي هغه نۀ دے مسلمان

د غازي ګل بابا جومات څخه يو ځل عبدالاکبر خان اکبر پښتو ليک "پښتو وايئ، پښتو ليکئ، پښتو لولئ" دجلسې په سټېج بېنر ولګولو، اروابښاد عبدالکافي اديب صېب خپل کتاب کښې ليکلي دي چې د دې ټولنې صرف فقط يو ممبر محمد اشرف غمګين، صحيح يې ليکلي دي، مونږه پکښې هم هغه وخت د شموليت اعلان وکړو، د غازي ګل بابا جومات په مقام صرف خدايي خدمتګارو جلسې کړې دي او کوي يې، خصوصاً دولسم اګست باندې ضرور د شهيدانو ورځ نمانځلے شي، راقم الحروف چې د پړانګ چارسدې بې دخله شوے دے کله د کرايې کله د بيمارۍ په سوب يې ډېره موده ګډون کړے نۀ دے، خو په اخبارونو مجلاتو کښې يې ګورو چې دغه جلسې مسلسل روانې دي، د پارټۍ مشران جناب اسفنديار ولي خان او ښاغلے افراسياب خټک صېب او نور ګڼ شمېر ورته تشريف راوړي، اګر چې د کورونو، دوکانونو، ابادو اوس د غازي ګل بابا جومت د جلسو هغه وېړ مېدان پاتې کړے نۀ دے، خو د شهيدانو له برکته به دا جلسې تر ابده دوام ولري. انشاء الله.